د قرآن کریم د نزول تجلیل

(د علمي- څېړنیز کنفرانس د مقالو ټولگه)



۱۴۰۵ ل.

د قرآن کریم د نزول تجلیل

(د علمي- څېړنیز کنفرانس د مقالو ټولگه)

Celebrating the Revelation of the Holy Quran

ISBN 978-9936-672-16-1

2026



د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د اسلامي علومو معاونیت

د تفسیر او حدیث مرکز

د قرآن کریم د نزول تجلیل

(د علمي ـ څېړنیز کنفرانس د مقالو ټولگه)

کابل – افغانستان

۱۴۰۵

کتنپلاوي:

څېړنپوه نورالحق "عزيزي" د کمیسیون رئیس

څېړنوال دوکتور عزیزګل "صافی" د کمیسیون منشي

څېړنپوه برهان الله "نیازي" غړی

څېړنپوه سید حبیب "شاکر" غړی

څېړنپوه عبدالولي "بصیرت" غړی

څېړنپوه نجیب الله "امین" غړی

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: د قرآن کریم د نزول تجلیل(د کنفرانس د مقالو ټولګه)

لیکوالان: یو شمېر څېړونکي

ترتیب او اهتمام: څېړندوی احسان الله"حلیمي"

د کنفرانس کال: ۱۴۰۳/۱/۱۸ هـ لمریز کال مطابق د رمضان المبارک ۲۷ مه ۱۴۴۵ هـ سپوږمیز.

د چاپ کال: ۱۴۰۵ هـ لمریز مطابق د ۱۴۴۸ هـ سپوږمیز.

د چاپ ځای: حبیب ناصر مطبعه

خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.

پته: د افغانستان د علومو اکاډمي، شاه بوبو جان کوڅه، نوی بنار، کابل.

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹ (۰۰۹۳)

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست ایمیل: info@asa.gov.af

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳٦-٦۷۲-۱٦-۱

د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلٰامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى آلِهِ
وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

لیکلړ

سرلیک **مخګنې**

د تفسیر او حدیث مرکز یادښت..... أ
سریزه..... ۱
د ارزښتونو شپه/ څېړندوی اسدالله میاخیل ٦
احیاء شب قدر و آداب آن در پرتو فقه اسلامی/ محقق محمد کریم ادیب..... ۲۹
رمضان تربیتګاه پرهیزګاران/ سرمحقق نور الحق عزیزی ۵۹
د فقر په کمولو کې د قرآن کریم د لارښوونو وندې/ څېړندوی سمیع الله صاحبزاده .. ۷۹
نقش هدایات قرآن کریم در کاهش فقر/محقق کمال نوری ۹۹
له قرآن کریم سره آداب/ څېړنیار رفیع الله نور ۱۲۹
د قدر شپې رڼول او آداب یې/ څېړندوی عصمت الله رحمتزی ۱۵۱
له مسلمان څخه د قرآنکریم غوښتنې/ څېړنوال محمد امان رسولی..... ١٦٥
نقش قرآنکریم در تربیت انسان/ معاون سرمحقق عبدالحمید وفا ۱۸۰
پژوهشی پیرامون برخی حکمت ها و فواید روزه/ سرمحقق ویس الدین حماد..... ۱۹۹
نقش قرآن کریم در تربیت فرد و جامعه/ سرمحقق محمد کبیر مشفق ۲۲۲
د قرآن کریم د قصو ځانګړتیاوې او موخې/څېړنوال عبدالرحمن حامد..... ۲۵۲

د تفسیر او حدیث مرکز یادښت

اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالْصَّلٰوةُ وَالْسَّلامُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

و بعد: د قرآن کریم د تدریجي نزول حکمتونه، د قدر شپه د هغې رڼوالې، په رمضان کې تقوی، د فقر په کمولو کې د قرآن کریم د لاړښوونو ونډه، د قرآن کریم سره آداب، له مسلمان څخه د قرآن کریم غوښتنې د فرد روزنه په قرآن کریم کې، د قرآن کریم د قصو ځانګړتیاوې او موخې د قرآن کریم د نزول د تجلیل په پلمه په زړه پورې معلومات وړاندې شول، کال په کال د قرآن کریم د نزول د تجلیل په اړه د تفسیر او حدیث مرکز کنفرانس جوړوي چې سږ کال په دې موضوع کې شپاړس عنوانه مقالې ترتیب شوې وې او هره یوه له بلې جالبه وه.

د قرآن کریم د تدریجي نزول په اړه خپله قرآن کریم داسې ارشاد لري: ﴿وَقُرْءَانًا فَرَقْنَٰهُ لِتَقْرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَٰهُ تَنزِيلًا﴾ [الإسراء: ١٠٦] (او قرآن نازل کړی دی مونږ هغه ټوټه ټوټه(لږ لږ)لپاره د دې چې ولولې ته(ای محمده!) دغه (قرآن)په خلکو باندې په آرام سره، او نازل کړی دی مونږ دغه قرآن په نازلولو سره).

یو خو دا دی چه لږ سبق ښه زده کیږي، او د صحابه کرامو عادت هم داسې وو چې د حفظ لپاره به یې کمه حصه د قرآن کریم اخستله؛ تر څو هغه ښه زده کړي او په عمل کې یې پلي کول ښه راځي، ابو عبدالرحمن سلمي رحمه الله وایي: مونږ ته هغو خلقو چې عثمان ابن مسعود او نورو رضي الله عنهم دا بیان کړی دی چې دوی به چې کله لس آیاتونه زده کړل له هغو به نه تېریدل تر هغه چې په دغو آیتونو کې به یې علم او عمل دواړه زده کړل، نو دوی به ویل: مونږ قرآن، علم او عمل ټول سره زده کړل.په مؤطأ کې امام مالک رحمه الله ذکر کړی دی چې ابن عمر رضي الله عنهما د سورة البقرة په حفظ باندې اته کاله تېر کړل [تفسیر ابن عطیه،١ټوک،٩مخ].

په داسې حال کې چه یو تېز ذهنه ماشوم کولی شي په یوکال کې ټول قرآن کریم په یادو حفظ کړي، او ابن عمر رضي الله عنهما په یوازې سورة البقرة کې د حفظ په خاطر اته کاله لګوي، معنی دا چه دا اوسنی حفظ او پخوانی حفظ سره تفاوت لري، پخوانی حفظ په دې معنی وو چې ټول احکام، مسائل او علوم چې په دغه مبارک سورت کې وو هغوی د حفظ سره سره په علم او عمل دواړو کې راوستل. اما اوس چې کوم حفظ کیږي یوازې د الفاظو حفظ او یادونه ده دا هم یو کمال دی خو پوره کمال دا دی چې قرآن کریم په علم او عمل دواړو کې راشي.

د قرآن کریم د نزول د تجلیل او لمانځنې او درناوي په پار د افغانستان د علومو اکاډمي د اسلامي علومو برخې د تفسیر او حدیث مرکز په نوښت او کوښښ د دوشنبې په ورځ د ۱۴۴۵هـ ق کال د رمضان المبارک په ۲۷مه د ۱۴۰۳هجري لمریز کال د وري په ۱۸ مه نېټه، د افغانستان د علومو اکاډمي د علامه احمد علي کهزاد د کنفرانسونو او سیمینارونو په تالار کې (**د قرآن کریم د نزول تجلیل**) علمي- څېړنیز کنفرانس دایر شو، په دې کنفرانس کې د علومو اکاډمي پوهانو د قرآن کریم د نزول تجلیل او نورو موضوعاتو په اړه په زړه پورې مقالې وړاندې شوې.

د تفسیر او حدیث مرکز غواړي چې د دغه مهم او په زړه پورې کنفرانس د مقالو ټولګه خپره او نشر کړي، د دې ټولګې د اهتمام چارې ښاغلي څېړندوی احسان الله حلیمي ته وسپارل شوې، له نوموړي څخه زیاته مننه کوو چې هغه په خلاصه ټنډه او په ورین تندي یې د دې کنفرانس مقالې راټولې، ترتیب او د چاپ لپاره یې چمتو کړې؛. ترڅو د یاد کنفرانس د مقالو له ټولګې څخه درانه هېوادوال او مینه وال علمي او عملي استفاده وکړي.

والسلام

مولوي عرفان الله "عرفان"

د تفسیر او حدیث مرکز رئیس

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

قرآن کریم د اللّٰه جل جلاله هغه تلپاتې معجزه او له هر ډول تحریف څخه خوندي کتاب دی چې انسان ته د لارښوونې، د ژوند د سمون او د دنیا او آخرت د نېکمرغۍ لپاره نازل شوی دی. دا هغه الهي کلام دی چې د انسان د فطرت له غوښتنو سره سم، د هغه د عقیدې، عبادت، اخلاقو، فردي او ټولنیز ژوند او د دنیا او آخرت د بریا لارې چارې ورښیي. قرآن کریم یوازې د تلاوت او ثواب کتاب نه دی؛ بلکې د ژوند جوړونې، د فکر سمون، د اخلاقي روزنې او د انسان د معنوي او عملي هر اړخیزې اصلاح جامع لارښود دی.

د قرآن کریم نزول پر رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم باندې په یوه ځل نه، بلکې د شاوخوا در ویشتو کلونو په موده کې په تدریج سره را نازل شوی دی. دغه تدریجي نزول د اللّٰه تعالی له ژور حکمت، کاملې روزنیزې تګلارې او د امت اړتیاوو سره له ژورې همغږۍ څخه سرچینه اخلي. اللّٰه تعالی فرمایي :﴿وَقُرْءَانًا فَرَقْنَٰهُ لِتَقْرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَٰهُ تَنزِيلًا﴾ [الإسراء: ١٠٦].

(او قرآن نازل کړی دی مورِ هغه ټوټه ټوټه لپاره د دې چې ولولې ته (اې محمده!) دغه (قرآن) په خلکو باندې په آرام سره او نازل کړی دی مورِ دغه قرآن په نازلول سره).

د قرآن کریم د تدریجي نزول له مهمو حکمتونو څخه یو دا دی چې د هغه آیتونه د مسلمانانو په زړونو کې په ژوره توګه ځای ونیسي، د هغوی ذهنونه او زړونه الهي لارښوونو د منلو لپاره وروزل شي، احکام په تدریج سره زده او عملي شي، او د قرآن کریم زده کړه له عمل سره یوځای پر مخ ولاړه شي. د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم اصحابو رضي اللّٰه عنهم قرآن کریم یوازې د الفاظو په توګه

نه زده کاوه؛ بلکې د قرآن له زده کړې سره يې د هغه علم، فهم او عمل هم ملګری کاوه.

د تابعينو له ستر عالم ابو عبدالرحمن السلمي رحمه اللّٰه څخه روايت دی چې هغه وايي: مونږ ته هغو کسانو، چې مونږ ته يې قرآن کريم رانبوده، لکه عثمان بن عفان رضي اللّٰه عنه، عبداللّٰه بن مسعود رضي اللّٰه عنه او نورو، بيان کړی دی چې هغوی به له رسول اللّٰه ﷺ څخه چې کله لس آيتونه زده کړل، تر هغو به يې له هغو آيتونو څخه بلې برخې ته نه تېرېدل، څو به يې په دغو آيتونو کې موجود علم او عمل زده نه کړل. هغوی ويل: «نو مونږ قرآن، علم او عمل؛ درې واړه يو ځای زده کړ»[1].

همدا د قرآن کريم د زده کړې هغه ژوره او اغېزمنه تګلاره وه چې د لومړني اسلامي نسل په شخصيت جوړونه کې يې بنسټيز رول درلود. د هغوی لپاره حفظ يوازې د الفاظو په حافظه کې ساتل نه وو؛ بلکې د قرآن کريم د لارښوونو فهم، د احکامو زده کړه او د هغو عملي کول يې د قرآن کريم د زده کړې بشپړ مفهوم باله. له همدې امله د قرآن کريم له حفظ څخه موخه بايد يوازې د مبارکو الفاظو يادول نه وي؛ بلکې ترڅنګ يې د قرآن کريم له پيغام سره د انسان د فکر، زړه او عمل تړاو هم پياوړی شي. د الفاظو حفظ ستر فضيلت دی؛ خو د قرآن کريم حقيقي اغېز هغه مهال لا بشپړېږي چې د هغه رڼا د انسان په عقيده، اخلاقو، چلند او ورځنۍ ژوند کې څرګنده شي.

د قرآن کريم د نزول مبارکه مياشت، رمضان المبارک، د دې الهي کتاب له نزول سره ځانګړی او نه بېلېدونکی تړاو لري. رمضان هغه مبارکه مياشت ده چې د قرآن کريم د نزول په وسيله يې ځانګړی فضيلت مونږلی دی. اللّٰه تعالی

---

[1] ـ تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد اللّٰه بن أبي القاسم بن محمد ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي (المتوفى: ٧٢٨هـ)، مقدمة في أصول التفسير، ناشر: دار مكتبة الحياة، بيروت، لبنان، الطبعة: ١٤٩٠هـ/ ١٩٨٠م، لومړی ټوک، ٩ مخ.

فرمايي: ﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ﴾ [البقرة: ۱۸۵]. (میاشت د روژې هغه میاشت ده چې نازل کړی شوی دی په دې کې قرآن چې هدایت لپاره د خلکو او دلیلونه دي ښکاره (له جنسه د هغو شیانو) چې هغه لاره ښیي او ښلوونکی د حق او باطل دی).

له همدې امله د قرآن کریم د نزول یادونه او درناوي یوازې د یوه تاریخي پړاو یادول نه دي؛ بلکې د دې فرصت دی چې مسلمان انسان له خپل الهي کتاب سره خپله اړیکه بیا وارزوي، د هغه د لارښوونو په اړه ژور فکر وکړي او له ځان څخه وپوښتي چې قرآن کریم یې په ژوند کې تر کومه بریده ځای لري. که د قرآن کریم له نزول څخه زمور موخه یوازې د یوې تاریخي پېښې یادونه وي، نو د دې ستر نعمت له اصلي پیغام څخه به مو ډېره برخه له لاسه ورکړی وي؛ خو که د هغه د نزول له یادونې سره د قرآن کریم د زده کړې، فهم، تدبر او عمل هوډ هم تازه کړو، نو د دې یادونې ارزښت به لا زیات او اغېز به یې لا ژور وي.

د همدې ستر هدف د پوره کولو په لړ کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو برخې د تفسیر او حدیث مرکز د قرآن کریم د نزول د تجلیل په موخه هر کال علمي او څېړنیز کنفرانس جوړوي. دغه علمي بهیر د دې لپاره ارزښتمن دی چې د قرآن کریم ښلاښل اړخونه د علمي څېړنې، تدبر او بحث له لارې وڅېړل شي او د قرآن کریم له هدایت څخه د معاصرې ټولنې د اړتیاوو په رڼا کې ګټوره استفاده وشي.

په همدې لړ کې د ۱۴۴۵ هـ.ق کال د رمضان المبارک په ۲۷مه، چې د ۱۴۰۳ هـ.ش کال د وري له ۱۸مې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علامه احمد علي کهزاد د کنفرانسونو او سیمینارونو په تالار کې د «قرآن کریم د نزول تجلیل» تر سرلیک لاندې علمي ـ څېړنیز کنفرانس دایر شو. په دغه کنفرانس کې د علومو اکاډمۍ یو شمېر پوهانو او څېړونکو د قرآن کریم د نزول، د هغه د حکمتونو، له قرآن کریم سره د مسلمان د اړیکې، د قرآن د روزنیز

او ټولنیز پیغام او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خپلې علمي او څېړنیزې مقالې وړاندې کړې.

په دغه علمي کنفرانس کې ټولې دولس مقالې وړاندې شوې چې هره یوه یې د موضوع له پلوه ځانګړی اهمیت او علمي ارزښت درلود. د مقالو په منځ کې د قرآن کریم د تدریجي نزول حکمتونه، د قدر د شپې بیان او ارزښت، په رمضان المبارک کې د تقوا روزنه، د فقر په کمولو کې د قرآن کریم د لارښوونو ونډه، له قرآن کریم سره آداب، له مسلمان څخه د قرآن کریم غوښتنې، د قرآن کریم له لارې د فرد روزنه، د قرآني قصو ځانګړتیاوې او موخې او یو شمېر نور مهم موضوعات شامل وو. دغه موضوعات د قرآن کریم د هدایت بېلابېل اړخونه رانغاړي لوستونکو ته زمینه برابروي چې د الهي کلام له پیغام سره له بېلابېلو علمي او فکري زاویو آشنا شي.

د دې کنفرانس د مقالو راټولول او په یوه منظم علمي ټولګه کې یې وړاندې کول ځکه مهم و چې علمي خبرې یوازې د یوه مجلس او یوې ورځې تر محدودې پاتې نه شي، بلکې د کتاب په بڼه د پوهانو، څېړونکو، محصلانو، دیني علومو مینه والو او عامو لوستونکو تر لاسه ورسیږي. علمي کنفرانس هغه مهال خپل اغېز لا پراخوي چې وړاندې شوې څېړنې ثبت، منظمې او د راتلونکو نسلونو لپاره خوندي شي.

له همدې امله د تفسیر او حدیث مرکز د یاد علمي ـ څېړنیز کنفرانس د مقالو د راټولولو، تنظیم، سمون او د چاپ لپاره د چمتو کولو چارې ما ته وسپارلې. په پوره حوصله، دقت او علمي مسؤولیت سره مې د کنفرانس مقالې راټولې، تنظیم او د خپرېدو لپاره مې چمتو کړې دي. د مقالو د دې علمي ټولګې په برابرولو کې هڅه شوې چې د مقالو اصلي محتوا خوندي پاتې شي، مطالب په منظم ډول وړاندې شي او لوستونکي وکولای شي د کنفرانس له علمي مطالبو څخه په اسانه او ګټوره توګه استفاده وکړي.

د دې ټولګې اساسي موخه دا ده چې د قرآن کریم د نزول د مبارکې یادونې ترڅنګ، د هغه د پیغام د پوهېدو، د الهي لارښوونو د تدبر او په فردي او ټولنیز ژوند کې د هغو د عملي کولو روحیه پیاوړې شي. هیله ده چې د دې ټولګې مطالب او مقالې قرآن کریم سره د مسلمانانو اړیکه لا ژوره کړي، د قرآن کریم د زده کړې او عمل شوق راڅوندی کړي او د علمي او فکري څېړنو لپاره د لا ډېرو هڅو زمینه برابره کړي.

په پای کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو برخې د تفسیر او حدیث مرکز له ټولو هغو درنو پوهانو، څېړونکو او لیکوالانو څخه د زړه له کومې مننه کوي چې په دې علمي بهیر کې یې خپلې ارزښتمنې څېړنې وړاندې کړې او د قرآن کریم د نزول د تجلیل په علمي بډاینې کې یې ونډه واخیسته. همدارنګه د دې مجموعې د برابرولو او چاپ لپاره د ټولو همکارانو هڅې د قدر وړ بولي.

له اللّٰه جل جلاله څخه دعا کوو چې دا علمي هڅه په خپل دربار کې قبوله کړي، د قرآن کریم له برکته زمور زړونه روښانه، عملونه او ژوند مو د هغه له لارښوونو سره برابر کړي، او دا ټولګه د علم د مینه والو، څېړونکو او ټولو درنو لوستونکو لپاره ګټوره وګرځوي.

وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللهِ، عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ.

څېړندوی احسان اللّٰه "حلیمي"

د تفسیر او حدیث مرکز علمي غړی